محمد ایاز نوري

۲۰۱۵/۱۲/۳۰

# شاغلي مزمل خان شینواري ته زما ځواب

ستاسو نسبتأ اوږده لیکنه (۲۳ دسمبر) مې د افغان جرمن د درانه پورتال په کړکی کې ولوستله. تاسو د پخواني پاچا اعلیحضرت ظاهرشاه پلوي یاست، اووسی، دا ستاسو قانوني او مدني حق دئ. زه یې مخالف یم، دا زما قانوني او مدني حق دئ. زه له دې وضعیت نه مشکور یم، که زما په مقابل کې هغه هم مخالف نظر راځي، بیا زه خپل تحرک حفظ کوم او که هیڅ غبرګون موجود نه وي، بیا زه د سکون وخواته ځم، چې دا حال بیا د یوه متعهد افغان لپاره ښایسته نه وي. اصلأ ولې داسی او ورته لیکني، چې راتلوونکي کې به هم که ژوند باقي وه، زما د قلم نه میدیا ته راشي، زه خپلو هیواد والو ته تقدیم کوم؟

بنستیز هدف د حقایقو ذکر او بالخصوص دافغانستان د یوه بیکاره بادشاه د اصلي خیري رابربنډول دي، چې مکارو پلویانو یې ورنه کعبه جوړه کړې وه او طواف یې ورته کاوه.

تاسو شینواري صاحب په پیل کې ماته لیکلي: « ښو ورځي د مخه مې ... ستاسي د مکتب د شمول داستان ولوست» حال دا، چې زما د لیکني عنوان « د ښوونځي د وخت یادونه» ده. تاسو په دوام زما له قلم نه په نقل زما د مرحوم پلار د دولتي رتبې او دندې ذکر کړئ ، لیکن هلته اصلي هدف زما، چې د دیوان حرب د مرستیال **د غرازه هندي بایسکل** ذکر دئ، تاسو د هغه د بیرته لیکلو نه ځان تیر کړئ دئ!!، زما مقصد دلته تظاهر نه وه، چې زه پخپل پلار کوم امتیاز ځان ته وغواړم، زما هدف دلته د شاهي نه صادق دولت د یوه جګ پوړي افسر د ژوند د صورت حال بیان نویو افغان نسلونو ته دئ. هغه وخت زمونږ د کور په موقعیت کې نورهلته یو شمیر شرافتمند او عزتمند د افغان اردو افسران لکه: ډګروال اختر محمد خان احمد زی، ډګروال شیرمحمد خان طوطاخیل، ډګروال محمد جان خان غوربندی، ډګروال محمد کریم خان خوستی، ډګروال خرم دل خان، ډګروال عاقل شاه خان منګل (چې بیا فرقه مشر شو) او نور اوسیدل، ما په سترګو لیدل، چې دغه د تاریخي افغانستان اصلي او صادق ساتونکي، چې د نادرشاه د واکمنی یې بیا تر ۴۰ لمریزې لسیزې پورې دا افغان اردو پخپل ارش او دریش راکش کړې وه، او هر یو یې پس له ۳۵ کلونو خدمت دغه عسکري رتبې ته رسیدلي ول، هر سهار پای پیاده تر ټانګ لوګر پورې روان ول او هلته بیا د ښاري بس نه په استفادې، به یې ځانونه اړونده قطعاتو ته رسول، مازیګر مل بیا د ګرد جن یونیفورم او ګردجنو بوټونو سره بیرته کورو ته را روان ول ...آخر دغه معظم ټولواک مسوول نه وه، چې دغو د هیواد ساتوونکو ته نه

مستقل موټر، بلکې مثلاً يو روسی جیپ، څلور کسه شاته او يو کس مخته، يعنی د پنځه کسانو لپاره يې هر سهار يوموټر رالېږلای...، چې د هغوی عزت او وقار خوندي وای؟

تاسو ليکی: « بايد په تاسف سره ووايم، چې ستاسو محترم والد صاحب په ابتايی [ستاسو مقصد د ابتدايی] کلمه ده او د مکتب دخه [د مخه] په مقدماتي ښوونه او روزنه کښ [کښی] چې بايد [ **"بايد"** ستاسو له خوا يوه اضافه کلمه ليکل شوي ده] د پنځه کلنی د عمر نه شروع کيږي د غفلت نه کار اخستی دئ تر دې چې تاسی حتا د مکتب نوم نه وه اوريدلی. آيا د ظاهرشاه ګناه وه چې پدې برخه کښ [کښی] خپل تعليم يافته ډګروال نه وه تنوير کړئ؟،»

تاسو جناب ته عرض کړم، چې بلې په پر مختللو هيوادو کې د مکتب د ابتدايی دورې د پيل نه مخکې ماشوم د يوه کال لپاره بايد وړکتون ته واستول شي، چې دئ د ښوونځي د پيل لپاره تيار شي. اوس ته جناب د ظاهرشاه غوندي غافل بادشاه نه هغه وخت د وړکتون د آسانتياوو انتظار کوې؟ بلې دا د معظم ټولواک ګناه وه، چې زه بايد د ښوونځي د پيل نه مخکې وړکتون ته شامل شوای وای. تا جناب په مهارت سره غوښتي، چې دلته زما پلار او ما د ناپوهي په تور توهين کړې. خير زه تانه شکايت نلرم، ته خو مخالف يې.

په دوام تاسو ليکلي دي: ،، **ستا** د قران استاذ مولوی صاحب ظالم سړی وه، هغه ملا چې د خدای او قران معظم نه ډار ونلری... نو پادشاه چې د خدای بنده څنګه کولای شی چې هغه د خدای په لاره روان کړی؟ که پادشاه داسی ملايان په درو ووهي او مخ يې تور کړی بيانو د امان الله [منظور ستا اعليحضرت غازي امان الله خان دئ]غوندی د کفر فتوی پرې صادرېږي،،

زه تاسره موافق نه يم، چې د هيواد ټول اختياره بادشاه د هغه مولوي په مقابل کې بې وسه وه. دا د پادشاه مسووليت او وظيفه وه، چې دغسی د دين استاذان يې سم روزلي وای. پادشاه د لومړي کچې معنوي او مادي امتيازاتو نه برخه مند وه، ليکن ستاسو په قضاوت د مسووليت په ځای کې بيا بې ګناه او د ملا په مقابل کې بې قدرته وه...؟!. تا په دوام د سلسله مراتب ذکر ماته کړئ دئ، او پر ما مو د **کردکی منطق** د لرلو د يوه کس تور لګولی دئ، زه درته وايم، چې سلسله د مراتبو بالاخره د وخت ټول او ټول واک ته ورسېږي. ستا خوښه ده، چې دا نظر زما مني او که يې نه مني. بلې ما خپل پلار ته د مکتب د حالاتو او فزيکي وهلو نه ويل، ليکن دا فزيکي وهل د شاګردانو هغه وخت يه يوه قانون او رواجي موضوع باندې بدل شوي ول او زما پلار په کې بې وسه وه. د معظم ټولواک د ضبط احوالاتو مامورينو دا د ښوونځيو ټول احوال پادشاه او نورو جګپوړو دولتي مسوولينو ته ورساوه، ليکن زه درته وايم، چې دا ټول د ارګ په رضايت پر دغه مظلوم او تاريخي ملت تر سره کيدل.

په وروستي پاراګراف د خپلې نيوکې کې تا بيا ځان رامعرفي کړئ، چې د پادشاه پلوی او د محمد داود خان مخالف کس يې او ليکلي دي: ،، د ظاهر خان په دوره کښ [کښی] به د چيپانو لخوا په مظارو [مظاهرو] کښ [کښی] د ظاهر کل او ظاهر خان مردباد [مرده باد] رذيلانه چيغی پورته کيدی

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

آیا د داود خان په صدارت او په اصطلاح جمهوری دوره کښ [کښی] ممکنه وه چی څوک ووایی داود خان کل مرده باد؟ خیال است و محال است و جنون. تاسی د ملی شخصیتونو جهنمی جزاګانواو اعدامونو ته د داود خان په دوره کښ [کښی] د کوم آزاد قضاوت په رنا کښ [کښی] ارزیابی کوی؟،،
بیا مو د رحمان بابا شعر لیکلی دئ...!!

که څوک تله د انصاف ...،،

تاسو په پورتنی توضیح کې د پاچا د وخت چپي مظاهرچیانو ته د **رزیلانو** خطاب کوی، آیا دا ستاسو انصاف دئ؟ هغوی افغانان ول او خپلي روا غوښتنی یي لرلي. بلی، زه پخپل آزاد قضاوت وایم، چې د محمد داود خان تر مشری لاندی په ۱۳۵۲ ل کال کې د شاهي مطلقه غافل، بی کفایته او بی تفاوته د ملت په حق کې دولت له منځه تلل او د جمهوري نظام اعلانیدل، دا زه په سیاسي، ټولنیز او اقتصادي لحاظ د هیواد افغانستان لپاره یو پرمختګ بولم نه یو په شاه تګ...!! ما په همدې پورتال کې په تحریري توګه خپل نظر لیکلی، چې په هر دولت کې او د محمد داود خان د حاکمیت په وخت کې، چې هر فرد یا ډلي یا کورنی سره زیاتی او ظلم شوی وي، هغوی حق لري، خپل ځانګړی نظر ولري، لیکن زه دا هم وایم، چې د محمد داود خان په جمهوري دور کې زمونږ ملي حاکمیت او ملي ګټي خوندي وې، اقتصادي چارې د تام امنیت په فضا کې په موثره توګه مخ پر وړاندې رواني وې او ملت او ولس په یوه غږ نظام او مشر ته یي تابع ول.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ